

# خوږ وطن

## شیر علي باچا

پښتونخوا ادبي څانګه

# خوږ وطن

شیر علي باچا

پښتونخوا ادبي څانګه

www.sikaraam.com

دکتاب نوم :- خوږ وطن

دچاپ کال :- جنوری ۱۹۹۵ ع

دچاپ شمیر :- ۲۰ زره ټوکه

دچاپ ځای :- یونایټډ پریس کوټه

کتابت :- عبدالرحمان

www.sikaraam.com

دار و اخ بنیاد عبدالرزاق دوتانی

په نوم

چې د خوږ وطن د ننګیالي اولس د علمي سیاسي لښکر پښتونخوا

ملي عوامي پارټۍ په سازولو کې لویه برخه لوبولې ده۔

پیر سینه

مشیر علي باچا

www.sikaraam.com

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

پښتو ټولنه ادبي ټولنه وياړي چې کرانو لوستونکو او د پښتو ادب مينه والو ته د خوږ وطن په نامه د محترم شير علي باچا د شعرونو مجموعه وړاندې کوي د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ جنرل سيکرټري محترم شير علي باچا د ملي سياسي رهبر په حيث د نابغه شخصيت خاوند او د اوچت علم و دانش خښتن دی. د دی د باچا د نامه ستانه پښتني کورنۍ کې زيږيدلی دی او د مردان په سياسي و ادبي چاپيريال کې لوی شوی دی. چې د خوږ وطن او ننګيالي اولس نجات او پرمختګ ئې د ژوند مقصد ګرزولی دی. د خپل مينې اولس د ښه سباوون په ارمان ناقابل بيان زحمتونه ګاللي دي او د خپل خوارې کښې اولس د ملي واک اختيار او جمهوري اقتدار په مبارزه کې تاريخي رول لوبولی دی. ده خپل قلم د وطن او اولس په کمک د يو اهم هتيار

www.sikaraam.com

پر توګه پکار وړلې دې، چې د نېشنل عوامي پارټۍ بیا د
مزدور کسان پارټۍ او اوس د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ
په نشریاتو کې او په نورو سیاسي ادبي رسالو اخبارونو
او کتابچو کې د محترم باچاجي ارزښتناک علمي لیکنې په زیاتره
اندازه خورې شوې دي. چې د اجتماعي سیاسي شعور
په بیدارولو کې ئې اهم رول لرلی ده او د ملي سیاسي لښکر
د نظریاتي تربیت وسیله ګرځېدلې دي.

محترم باچاجي د خپل علمي تحریرونو په زور او
خپل نظریاتي تقریرونو په برکت د علمي خیالاتو او صحیح
نظریاتو بادران او روزلې. چې د سیاسي کارکنانو ذهنونه
ئې له استعماري رجعتي او توهم پرستانه نظریاتو څخه صفا
کړې او ملي سیاسي تحریک لاره ئې روښانه کړې ده.
ده د خپل اولس د تولیزو ژوندانه په هر اړخ
په هر اهم موضوع باندې ډېرې لیکنې کړې دي.

www.sikaraam.com

خو استعماری نا روه پالیسی د پښتو نخوا سیاسی تحریکونه

د خانی پیوه الی نظام، کسان تحریک، پنجابی استعماری

سلطنت ته پورته لانجن استعماری جنګ او انقلابی افغانستان

قومی مسله، جمهوری مسله، ملی قهرمانان، خوشحال خان

خټک، باچا خان خان شهید عبدالصمد خان، د دې د علمی لیکنو

غوره نمونې دی۔

محترم باچاجی له سیاسی مبارزې سره یوځای ادبی

مبارزه هم پرمخ بېولې ده او هر وخت ئې د پښتو ادب

او پښتون ثقافت د پراختیا په کار کې نعالم برخه اخستې ده۔

ده د خپل وخت په ادبی علمی کانفرنسونو، سیمینارونو او

مشاعروکی ګډون کړے دے۔ او ډېرې علمی ادبی

مقالې ئې وړاندې کړې چې د پښتو ادب په تاریخ کې د ځلاند

باب حیثیت لری۔ محترم باچاجی د هنری نثر لوی لیکوال

دے۔ خو د شعر هنر ئې هم و کمال ته رسېدلے دے

www.sikaraam.com

موږ ته د باچاجي د شعرونو ډېره لويه برخه په لاس راغلې ده خو د اد پښتو د شعر دومره غوره نمونه ده چې په وړاندې کولو بهٔ یقیناً د پښتو ادب پانګه لا ډېره غني شي، او ګران لوستونکو ته به د باچاجي د شعرونو څخه د ده دوطن او د اولس د پاکې مینې او ژورو احساساتو اندازه وشي۔

په درناوی

**شعبهٔ نشر واشاعت**

**پښتونخوا ادبي ځانګه**

**کوهاټ**

۳۱،م، دسمبر ۱۹۹۴ء

www.sikaraam.com

# خوږ وطن

لکه د ژمي په ماښام چې تورې لمبې راشي
لا یو مزدور د کارخانې نه کور ته ستړې راشي
لکه دهقان د خان پټي نه تږی وږی راشي
لا یو سوالګری د مالدار نه ورځې خوږې راشي
لکه مظلوم د ظالمانو نه د ر کړې راشي
لا بېګناه قیدي زندان ته لکه مړې راشي
زما زړګیه! بس د خوږ وطن قیصه داسې ده
دا ورېدو نه ده قسم دې چې تر خه داسې ده
داسې غریب کره د یوه سم د ماښامه رپي
لکه بیمار په ځنکدن د خپل انجامه رپي
داسې نوکر د خان د ویرې لړنا کامه رپي
لکه مجبوره ګکه یدو نکې ګل اندامه رپي

www.sikaraam.com

داسې فقیره دې غني نه لبس تمامه ربي

لکه مېخوار په مېخانه سره د جامه ربي

تر څو مې چېرې چې د خوب وطن خوا نه بیان کړم

زما نه کیږه د لته څه دي آخر څه بیان کړم؟

چرې رېښ یېږي نه د لېدار مانو نو غوځې

کنې نو هره ورځ رېږي د ګلو نو غوځې

تل به ژړاوي په مسلکو د امیدو نو غوځې

کنې نو کوره ښکلې خاندي د زخمو نو غوځې

د لته تازه اوسي همېش د حسن تو نو غوځې

کنې نو کوره ښکلې مړاوي يې د مخو نو غوځې

ماوې د خوب وطن قیصه زه بې سپوره نه کوم

خو د احساس چرې مې وږنې که يې نوره نه کوم

لکه کچه مېوې د باغ سپېره سیلې او وهي

لا تیار فصل د دهقان چې تر ن لیدا او وهي

www.sikaraam.com

لکه د پوهې چینې کچه کچه عنوتې او وهي

لا چرته څوک په توره شپه بلا مو غني او وهي

لکه ګل چین تازه ګلان په کتارې او وهي

لا یو جلاد د چا غلام نه ککرې او وهي

داسې مې خوږ وطن په تبر د خانۍ وهلې شي

داسې د اقام په تیره تیغ د امیرۍ وهلې شي

زما نه کیږه ! داسې تیز شوې چې په خر غصه شوې

جوړه د وطن قیصه خوږه نه ده په دې خفه شوې

زړه مې د رزا کښې راته ووئیل یوه خوږه نغمه شوې

د آزادۍ زیرې مې او کړې په وطن خوره شوې

دې خوارو وزارو اولس له ورغلې اول جرګه شوې

بیا د وطن په غلیمانو یوه سره لمبه شوې

چې دا ظلمونه ستمونه ټول ایره ایره شي

بیا به زما د خوږ وطن قیصه ایله خوږه شي

(مردان ۱۹۴۷ء)

www.sikaraam.com

# بدلون

زما د تام دې وسي په سره مېره باندې نن

قطره قطره ستا د ریبار نظر شبنم ورېږي

ستا د ګل رنګ بدن د پښم باران راغے دلته

زما د ملک تږي ورشو باندې بس سم ورېږي

د پښتنو د خوار چمن په مراوے شو غنچو

ستا د تازه لبانو پرخه ده هردم ورېږي

نن د خوارانو غریبانو په زعفران د جبین

ستا د ګلګون رخسار پونړه ده دم په دم ورېږي

چې د بندیز حکم پې کوو هغه راځي د نوکرآم

خاوري ده اوس د هشنغر واړي برخوک بنده وي

پښتانه واړه نن قطار ځي د تنظیم په آسمان

اوس که د لوړي کر د سر نه راځي په خوک بنده وي

www.sikaraam.com

چې سپي آزاد وو کا مې بند وو هغه بل موسم وو
اوس شوه ګرمي د يو بدلون کا مې برخوک بند وي

(د ۲ فروري ۱۹۷۱)

www.sikaraam.com

ترجمه: د علي سردار جعفري د نظم

# د نمر خون

د شفق په سور کې رنګ کښې د آفتاب د قتل رنګ دے

د افق سینه زخمي ده ماښامے په وینو رنګ دے

د رڼا په ښیښه سپینږدے باران د تورو کاڼو

د آسمان تر زمینه دیو لوئے شپې غور رنګ دے

رقیبا نو کته او کړه د جنګ خـــتمي مرحلے دي

چې سینو کښې بلیدلے مړے د غم هغه شعلے دي

د درد ونو مقام ورک شو اوس ژړا به د چا څه شي

چې دیار د حسن سنګ وي نو د شوق سجدے هله شي

څوک به چا سره وفا کړي چې تر ښکلے پاتر نه شو

بس قاتل ته دې دعا کړي پاتي د غه اراده دي

خو دا جنګ هغه جنګ نه دے چې به ختم شي دا چرې

د آفتاب د وینې تاج بیا شے هغه دے په سر کړو

www.sikeraam.com

ستورو نور له غره واخست ډک يې جام ترے سراسر کړو
د ښو پر هر يو غشي ډيوے بلے شوے د اوښکو
منور يې روښنائي کښې هر يو زخم د ټټر کړو

د ډيوو ژبې کړرچې يا پړق پړوق دے په آسمان کښې
دا بڅرې دي چې نولي د دې شيشے په غټ دالان کښې
د دردونو قيصه ځکه لکه ګل وي په سل ژبو
لکه بوئے هسې خاموش دي لپوني په دے داستان کښې

د ګلونو غنډل غاړې لکه توري چې رتيږي
د تيرولو د بوالونه چې تر درز شو را منړي بڼي
د بې سره دشت هواده چې تاوونه خوري تاويږي
د وفا ښکلي چمن کښې د وفا ګلاب موسيږي
د سپرلي نغمه چيړي ونکي بلبلان دي هوسيږي
له نظره انګو شو مه وسره شراب دي چې توئيږي

د حُلمی خوب د شنه بڼ نه را روان دے نسیم غلے

د بد لون د زیړی مُشک بۍ هره ساه کښی دے نغښتلے

وائی کاروان به ضرور د رومی د رنګونو بهارونو

د سحر به اوبه باندی یو تازه آفتاب نیولے

(مهیں وجیل ۱۹۷۱ء)

www.sikaraam.com

# ملګریو

د اُمید چې هر ځای کښې
او زړېن و بیو ځای کښې
که څه تر غم غم وي
یا د خوښیو دم وي
په جسم ئې ټول تېر کړو
دا ځان ځانې هېر کړو
یو ائې هر یو داسې
لکه اوس ګـــوډې سوده شي
اخلي قدم بوقر شي
خپن م په بره لســوره

www.sikaraam.com

لار تر په خوږه خوږه
تا سو ځه غږوا پر مه
خو دا ارمان دے زما
لس دې مېلوی شل
د دې ودوری زمونږه
زمونږ په سوی ګوګل
تر څو چې مړه نږیو
یو اځی زه یو اځے
یمه یو داسی لیونده
چې تا رپے سوزوی
داسی یوسوی انغږے
بل پکښې اور نه وی
څرنګ یو شناه وځ
د مینې کیسے نه وی

www.sikaraam.com

تاسو سره بریم زه
خو بې غیبه لې نه ده
خو به نغمه د ژوندون
خو اکښې ساه غمجنې
داده وعده د پښتون
تاسو شو به و ملګریو
لاړ کښې ما مه پرېږدوئ
لاړ کښې ما مه پرېږدوئ

(کراچۍ ۱۹۶۲ء)

www.sikaraam.com

# غزل

څه ازغی ازغی ځانی ده
ګلاو غوټه می ځوانی ده

د سحر طمع قربان شم
ګنی شپه خو ستومانی ده

ماوی ګل کرم مسلکرو
وائی ځکه بارانی ده

او چې شو نه ی میخوار ګرځي
د ساقی مهربانی ده

نن غوټی د رنګ دپاره
ستا د ویني ارمانی ده

www.sikaraam.com

هسی زمږ دی اننګی دی

خو قیصه دی الوانی ده

د زړه و ینی خښبه امنوره

د شر ابو چي ګر انی ده

حسن کړد زړه غل دے

زړه د دغه غله غل دے

مینه کوه د ده ګسرځه

څوک چې شر مېده غل دے

هر قاتل ته تېغ ګوره

چا چې نه کا تر غل دے

شپه ستائې په سپین سبا

شېخ د لمر خا تر غل دے

ستا د حسن غله ګوری

نور باچا په څه غل دے

# غزل

ښکلي دي چالاکه دلائیل غواړي
اوس له عاشقانو وسایل غواړي

د هره هوښیارتیا زما په کار نه شوه
خلک لا تېر وتي دي جاهل غواړي

پټ مېئن او پټه خله له خلکو نه
دا تا واني رسم خو قاتل غواړي

خو نو کښې خوندي ساتي ښېښتو حُسن
دا غو تهی دي کل شي څه وئیل غواړي

هست کړو که لَائق، حمزَه، غنیَ، اسرآر
بیا هم شاعران لکه سایلَ غواړي

څه ښکلې تجویز دے وړاندې کړے یار
شنه بنګړي ماتېږي سره پایل غواړي

www.sikaraam.com

تنګ کړ و میکده کښې د زاهد زهد
جام باندې وېښتل د غم کاهل غواړي

ګل بهرشي غنچه بهرشي چمن بهرشي
دا بې سره دښتې و اک کامل غواړي

یار چې عشق پټکې پر خراسان شاړه
او س له مغولانو فضایل غواړي

نن راته باچا یو نکته دان اووے
ښه غزل، جوړ ذهن، زړهٔ کایل غواړ

مستی کی او بانہ دی تر بگنی کوی
خال دی پہ جبین حکمرانی کوی
سپین مخ دی زلفان نیسی پہ تور خط
دا کافران بنہ مسلمانی کوی
گران شو دید نونہ پہ بازار د عشق
اوس بہ دن پہ وینی ارزانی کوی
داد عشق قیصی رښتیا کوی بہ څوک
دا بہ زما توان او ستا ځوانی کوی
نہ ہ بی ځا یہ ورغی پہ مست لښکر
نہ رلری نہ زور قہرمانی کوی
شات شیدی شراب، مستی بنا اُستہ حوری
شیخ بہ ھلتہ څہ زندگانی کوی
فن رسی زنہ کی تہ د ښکلا پہ لاس
دی سفر منزل تہ روانی کوی

www.sikaraam.com

مونږ به دخلیل رسم په ځان منو

خلک ګډه حلال کړي قرباني کوي

کوځې پېښور بیا پایه تخت باچا

ترکی د باکرام به سلطانی کوی

www.sikaraam.com

# قصیده

شیر علی باچا ـ مردان جون ۱۹۹۲ء

اے طاقتہ، اے قوتہ — اے قادر پہ هر صورتہ

…ے رحمانہ اے رحیمہ — اے جبارہ اے کریمہ

…ن ؤ موږ پہ حق بدل شہ — د مظلومو سرہ مل شہ

…غواړو ستا لہ برکتہ — نشہ ژوندون ډک لہ عزتہ

…کہ شو خلاص لہ غلیمانو — موږ بہ سیال شو د سیالانو

…د سنکیانګ نہ تر بهکرہ — لہ آمو تر ټیکسلا غرہ

…چترال نہ تر بولانہ — لہ هراتہ تر واخانہ

…و هیلہ افغان کلہ کہ — هر افغان ور سرہ یار کہ

…بو ئې خلہ یوہ جرګہ کہ — دوي د خپل وطن مختار کہ

…جګہ جګہ ئې شملہ کہ — نوی غرور ئې وابیدار کہ

…لو لې ور حوالہ کہ — چې اغیار ربا ندې یلغار کہ

…ګیالی ور سرہ مل کہ — برابر ئې پہ قطار کہ

www.sikaraam.com

بیا ئې سم په مار کله که    د مغل مرګ ترې تیار که

په روهتاس ئې قافله که    په جهلم کو در ئې پار که

په لاهور ئې غلبله که    قبضه کو واړه قلار که

د بد بر په انباله که    د رنجیت وارث مردار که

پانی پت چې دواله که    احمدشاه ورله سردار که

بیا ئې بنګاره په بنګاله که    د شیرشاه دور دوبار که

بریالی په کیرالا که    ورسره تمام بهار که

روهیلکنډ د روهیله که    د حافظ نفسي تاجدار که

په کشمیر ئې رساله که    چې کاشغر پورې رفتار که

ترې دومره بدرګه که    چې پارس کښې په ناتار که

بیا چې مونږه نه حمله که    اراده ئې تار په تار که

سود خواره شیخان ماله که    وران د مصر هر بازار که

اسرائیل چې فیصله که    فلسطین چې خود مختار که

استعمار چې کومساله که    سامراجیان واړه پردار که

www.sikaraam.com

برکت ئې همساله کـه فیض ئې عام لکه آبشار که

د دوی سیمه گلاله که منطقه گل و گلزار که

شگفته ئې موږ شپېله که او چې ډاکې ئې بهار که

په وطن چې معامله که په سولې هغه غدار که

پښتو ئې په هر رنګه که یو یو تکی ئې شاندار که

په هر رنګ ئې کامله که علم و فن ئې په شابار که

د باچا بیت کشماله که قصیده د خپل دیار که

## اے طاقته اے قدرته : اے قادر په هر صورته

اے رحمانه اے رحیمه اے جباره اے کریمه

ظالمان موږ په حق بدل شه د مظلومو سره مل شه

غواړو وستا له بن کته شرق و ندو ن ډک له عزته

کړه شو خلاص له غلیمانو

موږ به سیال شو د سیالانو

www.sikaraam.com

# سیالی

هغوی د خپل خپل ګلشن د ښیو سره ګلانو د تازګۍ او ښکلا دپاره

د خپلو اکی له پاکو، رطبو او مقدسو چینو نه ډک کنه ولی د ځان سره راوړه

هغوی د خپل خپل قامی ترودون، غیرت، عزت، او ناموس د شملو د عظمت او لوړتیا

د آزادۍ او قهرمانۍ د سمندر د څپو نه جوش جذبه او مستی د ځان سره راوړه

---

اوس د سپوږمۍ په نرم او لوپست تپ کښې تودے تودے

روغی د اباسین د څنګ نه جوړی ځوانی پستے پستے

ښوریږی هم ګنړیږی پدے روښ د یو بل سرے

---

ته خو هم سیاله بے مثاله ځان ته دائے پښتنی شیرینی

تقدیر بدلیږی را بدلیږی د قومونو دا قانون خو دینے

هر اده ده پره مر پداره خوشګوار شو لو موسم د مینے

خو له ته اکسی حرزی نا ستری په کړه او په وطن غمګینی

www.sikaraam.com

گام په تولن تولن کا ۔ تود دی چلن چلن کا

تاؤ دی بدن بدن کا ۔ نغمه وطن وطن کا

ــــــــ ٭ ــــــــ

چې مونږ به هم د خپل تاله واله گلشن د بې وسه گلانو د تازگۍ او ښکلا دپاره د خپلواکۍ د دریاګو، رطو او مقدسو چینو نه ډک کنډولي د ځان سره راوړو

چې مونږ به هم د خپل قامي ژوندون غیرت، عزت او ناموس د شملو د عظمت او لوړتیا دپاره د آزادۍ او خپلواکۍ د اباسین د چینو نه جوش جذبه او مستي د ځان سره راوړو

ــــــــ ٭ ــــــــ

ربه ! دا تودہ کړه اشیر سینے ترا تن کا ۔

درز د شملے خور کا د وطن ملگري ورکا ۔

www.sikaraam.com

# اصغر لالا

د مردان اوسېدونکی دی چه ټول ژوند له محترم شیرعلی باچا سره یوځای اوږه په اوږه دسیاست اوادب پرمیدانونو په نره جنګیدلی دي ۔

محترم اصغر لالا د خپل خوږ وطن د زیارکښو ننګیالی اولس د انقلابی سنګر غښتلی مخکښ او د پښتو ژبی د هنري ادبیاتو غوره ایجادګر دی ۔ ده پخپل هنری تخلیق خوږه پښتو ژبه لا ډېره بډایه کړېده ۔ موږ لی دلته د شعر یوه ښکلی نمونه وړاندی کوو ۔ چه کرانو لوستونکو یې د لوړ مقام څرګندونه وشي ۔

پښتونخوا ادبی څانګه

د اصغر لالا

د کلام

ښکلې

نمونه

# بالاحصار

نه نه اشنا څما اشنا په دغه لاره نه ځو

په دغه لار بالاحصار کمر سنګر پروت دے

دغه کمر د زړه په سر څما لوی غر پروت دے

دا مغلوال دا فرنګوال د سکهه والے دا نشان

زه خپل ذلت خپل هزیمت ته عزت څنګه اووایم

دا استبداد د غرور روئیداد د بتولواکۍ دا بیان

سامراجیت آمریت ته عظمت څنګه اووایم

څنګه د قام د هر اندام نه زه دا تور سپین کړم

چې هر نظیر ئې دلپذیر د رڼ سحر زېړے شي

څنګه دا باب ستا د شباب په آب وتاب رنګین کړم

چې هر ضمیر ئې بے نظیر د رڼ نظر زېړے شي

www.sikaraam.com

ښنګه جمهور له دا تربور نه بې قصور او ګرزوم

ښنګه د ظلم جبر قهر د استانو نه هیڅ کړم

ښنګه حیات نه په ممات کښې ځان محصور او ګرزوم

ښنګه د حکم صبر قهر د او ختو نه تیر کړم

ښنګه مقهور مجبور اولس ته خواب آور ترانې

نه د ا پہل خوشحال د ریا په سیمه او ښکیږمه

ښنګه د جمهور زبور وپټ نام نه منور ترانې

د دې جلیل بې حال دنیا له بیمه او ښکیږمه

چې انقلاب په آب وتاب د خوار اولس نعره شي

د هر نادار د لدار سینه کښې سرې لمبې پورته کړي

دا انقلاب بنه په شتاب د هر یو کس نغمه شي

د هر بادار زر دار د پره کښې غلبلې پورته کړي

لکه شاه غل بے مل د ځل نشو نشو ستر ګو کښې

www.sikaraam.com

نن د احصار عخیف نزار د اسې ستو مانه شان دے

لا اکه غل وی په یو غل د شپو خو روز لفو کښی
بالا حصار د اسې بې زار پښېمان بې ځانه شان دے
ځما اشنا ده د ژوند کاسه نسکوره شان ده

نن هر فصیل ئې بې سبیل د وخت د روند والے خوئې
وینې اشنا ده د مخ کاسه هم سپوره شان ده

نن هر دلیل ئې بې قندیل ځې خپل روستو الے خوئې
تر څو عوام د دې مرام د وینې داره نه شی

په بله لار بالا حصار و ته ختل گران دی
تر څو د اقام د دے ویښ نام په سمه لاره نه شی

ما خوار و زار له دے حصار و ته کتل گران دی
نه نه اشنا ځما اشنا په دغه لاره نه ځو

په دغه لار بالا حصار کمر سنگر پروت دے
د غه کمر د زړه په سر ځما لوے غر پروت دے

(اصغر نومبر ۱۹۶۶ء)

www.sikaraam.com

اصغر لالا مردان

# "خیبر"

اے د ښکلا مینو — د کلو رنګ ژاړی

اے د هجرو ځلمو — د رباب ترنګ ژاړی

اے د لمنی شپونکو — د شپیلی هنګ ژاړی

اے د قامونو وینی — د پښتون ننګ ژاړی

په آسمان څوکو غرونو — د خیبر کړنګ ژاړی

ژړا ژړا ده هر خوا

د مرګ سودا ده هر خوا

د آسمان څوکې خیبر — د خړو کاڼو ربه

د ښکته پورته لمن — د اوچو جاړو ربه

د دے بیلو سوخوارو — د ونو باڼو ربه

څه د پړد پدلے شانی — د زړو لاړو ربه

www.sikaraam.com

د للمو للمو زمکو د زړه وو انده وربه

دا د پښتون جنت دے

دا د پښتون همت دے

دا د پښتون وطن د زړورو د رون وطن

د بهاکو خان کاکا د ځیګر خون وطن

دا ایمل خان بابا د لوړ شیخون وطن

دا د خوشحال بابا د زړه کړون وطن

بیا د رحمان بابا یو مینه تون وطن

هغه ستا مینه څه شوه

هغه ستا وینه څه شوه

دا د خیبر په ګړانګ د ومره او چت ښکاره ے

دا د خیبر په ځلاند د زړو تخت ښکاره ے

دا د خیبر په غیرت د تیږو سخت ښکاره ے

دا د خیبر په مینه د مستو مست ښکاره ے

کړ دا خیبر تا نه راوړ ما ته بد بخت ښکاره ے

www.sikaraam.com

ستا نه عزت لاړه

ستا نه غیرت لاړه

دچا د یخو نغرو — تودې ایرې خرشوې

دغزیدونکو لمبو — سوې نغرې خرشوې

دلړزیدونکو جذبو — هغه جرګې خرشوې

دیتیمانو ژړا — دزړونې دېږې خرشوې

چې داخیبر رضا کړې

دې برتر خو ژړا کړې

دخیبر ارتې سینې — څه ستا په کوېکو پوهیم

دتورو کلکو تیږو — دزړه په خوږیکو پوهیم

ستاد اولس دلاس — په هرویکو پوهیم

چې اسویلو کښې یادې — په هغه هیتکو پوهیم

زما په کوربنا کړې — په هغه لیتکو پوهیم

www.sikaraam.com

زما د زړه وسوسو

زما د زړه تلوسو

اے د ښکلا میئنو     د ګلو رنګ رازی

اے د مجرو حُلمو     د رباب ترنګ رازی

اے د ملنی شپونکو     د شپیلی ھنګ رازی

اے دکودرو پیغلو     د منګی ټنګ رازی

اے د پښتو وینی     د پښتون ننګ رازی

پاسر خیل قام جوړ کړ

پہ خیبر لام جوړ کړ

۳۰رم فروری ۱۹۵۵ء

www.sikaraam.com

# سهرۀ

دآدم خان ارواح رباب رباب
د تصور لیلیٰ شراب شراب
زما دخیال بناپېروتوې کسرا
د تخیل لوړ متیا شباب شباب

ٔ ن خپل اشنا له زه سهره لیکمه
د لیونے مینې قیصه لیکمه

د باد خپو نن خوشبوئ راوړې
مستئ د زلفو مشکینې راوړې
هره وینا کښې مې نغمے او نغاړې
د پاکې مینې رنګینې راوړې

فضا نشه کښې د نشو شپه ده
غم هو نو راوړې نن دتخکو شپه ده

www.sikaraam.com

نن می قلم لہ سرہ جاموننہ واکئ
دچا دستو کو خما دوننہ راکئ
پہ هر یو تکی کښی خو بوننہ یوک وی
دے لواہ ی ژبی لہ سان وننہ راکئ

چی دا یاران می نن اودہ اودہ شی
او د رقیبانو خو سے او بہ او بہ شی

نن می سوزونو کښی لښ سازنگہ کڑئ
د نوی ناوی ناز انداز نگہ کڑئ
لکہ سپین لے چی بلبلان مست کڑی
زڑہ کښی می داسی یو آواز نگہ کڑئ

نن پہ مات زڑہ نوے جفاکومہ
ژڑا بہ بیا چرتہ صبا کومہ

ماوے خانیہ! تالہ خهرہ لیکمہ
خبر کہ پہ خپل ژوندون خیرہ لیکمہ

www.sikaraam.com

رباب شراب شباب مې ځکه غوښتل
ما وے خوږه نه چې سپین الیکمه

خو بیا دې غمونو اسویلو کښې یوړم
اباسین بیا خپو څپو کښې یوړم

د ښېښتو هېر او ریل ترې بیا بو تلم
د اشنا تېر چل ول ترې بیا بو تلم
بیا یې د زلفو د ولونو راښکلم
د زماني ول ول ترې بیا بو تلم

بیا مې جذباتو کښې طوفان راغے
بیا مې خیالاتو کښې انسان راغے

بیا دیوخان خند ار ایا ده شوله
بیا د دهقان ژړا ر ایا ده شوله
بیا استعمار د قام مرے خېر کړه
بیا د نړندان د نړیوال ایاده شوله

www.sikaraam.com

بیا می قلم په لپ ز ښه وسرشه

لیواله زړه په دروزښه وسرشه

ستړکی می توری شوے نظر لټوم

ځکه توری شپې لرسپین سحر لټوم

چې داد زړه آواز می ستاد زړه شی

لالیه ځکه داسی هسی لټوم

قسم دے نن چې ستا سهره باتی شوه

د زړه دنیاز ما سپیره پاتی شوه

۷،م نومبر ۱۹۵۶ء

This Book is Scan & PDF By:

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

Kitaboona.BlogSpot.Com

Visit Us For Books

www.sikaraam.com




www.sikaraam.com